# په دې نازک وخت کښې مونږ له څه کول پکار دي؟

## ۱۷جون ۱۹۴۲

نن ورځ ماته د صوبې د مختلفو حصو نه د غنمو،ترو،او کپړو په باره کښې شکايتونه او تکليفونو نه ډک خطونه راځي. په دې کښې هيڅ شک نشته دے چې نن ورځ زمونږ پښتنو وروڼو ته دا ټول تکليفونه پيښ دي. دا تکليفونه خو څه زمونږ د خپلو خدائي خدمتگارانو د لاسه دي او څه د حکومت او د هغه د نوکرانو د وجې نه دي. زمونږ د خپلو خلقو نه د ترو،او کپړو وغيره ځيزونو د تقسيم په باره کښې ډيرې غلطۍ شوې دي. بلکې بعضې ځايونو کښې غلطۍ خو پرېږده چې نوبت تر بليک مارکيټه پورې رسيدلے دے.

بل طرف ته حکومت او د حکومت نوکران دي چې هر کار ور ته حواله شي نو بلکل په ديانتدارۍ ئې نۀ کوي. او ديانتداري خو لا پرېږده چې د وزارت سره د هيڅ قسم کواپريشن (تعاون) ته تيار نۀ دي. بلکې د وزارت برخلاف پروپېگنډې کوي. پاتې د غنمو معامله شوه دا قيصه لا د ټولو د پاسه ده. په دې کښې خو حاکمانو په ملک کښې يوه عجيبه تماشه جوړه کړې ده. کوم سړے چې قوم پرست دے په هغه پسې ئې د حق نه زياتې غنم لگولي دي او کوم سړے چې حکومت پرست دے هغه پسې ئې د حق نه ډير کم منکت لگولے دے. دا هر څه چې شوې دي د حاکمانو په بدنيئ او قصداً شوي دي او د خدائي خدمتگارانو د وزارت د بدنامولو دپاره شوي دي. دې کښې ډير ډير مطلبونه دي. چې د هغې نه يو دا دے چې دا خودغرضه خلق په دې طريقه زمونږ په کور کښې گړ بړ پيدا کوي. خلق زمونږ نه خفه کوي بلکې خلق زمونږ سره په جنگ کوي. دا د راتلونکي اليکشن دپاره ماته يو لوئې سازش ښکاري. په دې وجه باندې زۀ د خپل ټول پښتون قوم په خدمت کښې دا عرض کوم چې دې ټولو خبرو باندې ډير غور او فکر وکړئ. دا وخت زمونږ د قوم او د تحريک دپاره ډير خطرناک دے. کۀ چرې مونږ لږ هم د غفلت،خودغرضۍ او ناپوهۍ نه کار واخستو نو زمونږ قوم او ملک ته به ډير نقصان ورسي. مونږ له پکار دي چې په بهادرۍ سره د فيرنگيانو د دې سازش مقابله وکړو. د دې مقابلې دپاره زۀ خپل تجويز ستاسو په مخکښې پيش کومه چې د صوبه سرحد ټولې

هغه حلقې چې په کومو کښې خدائي خدمتګارانو ګټه کړې ده په هغې کښې دې د دريو کسانو يوه کميټي جوړه شي. د داسې کسانو چې ډېر ايماندار او ديانتدار وي. او د هيڅ جرګه او شفارش نۀ مني. هغوي دې د خدائې دپاره ملا وتړي. کلي په کلي دې وګرځي خلق دې پوهه کړي چې د غنمو،ترو،کپړو وغېره په باره کښې تحقيقات وکړي او مرکز عاليه ته دې رپورټونه راولېږي.

کوم رپورټ کښې چې مبالغه نۀ وي او په حقيقت باندې مبني وي. وزارت به پرې ضرور عمل کوي. خلقو له پکار دي چې په دې خبره پوهه شي چې دا وزارت د هغوي د خدمت دپاره دے اوکۀ چرې دا وزارت د هغوي خدمت کولے نۀ شي نو استعفى به ورکوي. خلقو له پکار دي چې د وزارت برخلاف کومې پروپېګنډې او مظاهرې کوي غوږ پرې کېږ نۀ دي ولې چې قوم نن وغواړي چې دا وزارت دې نۀ وي نو نۀ به وي. دا خو ستاسو د لاسه څيز دے.

ما د دې قسم کميټۍ کوهاټ،بنو او ډيره اسماعيل خان کښې جوړې کړې دي نن د مردان په دوره ځم او هلته به هم جوړومه بيا به د مردان نه پس د پېښور دوره کومه.

(فقط عبدالغفارخان)

☆☆☆

## دا په کښې لا بله

يو خبر خور شوے دے چې يو عربي شهزاده په جوارۍ کښې خپلې پينځه ښځې (بيبياني) په داؤ ايښې وې او پينځه واړه ئې بائيلې. د دې ښځو تورو برقو کښې تصويرونه هم ميډيا خوارۀ کړې دي.

خبره صرف د جوارۍ نۀ ده. جواري خو ټول شهزادګان او شهزادګۍ کوي. څه موده مخکښې دا خبر هم راغلے ؤ چې د يو بل عرب ملک د يو وزير ميرمن جوارۍ کښې ډېرې زياتې پېسې بائيللي دي. مالداره ښځه ده. څه ترې کمېږي نۀ. زمونږ پرې څه.

ولې دې اوسني خبر کښې خبره د پينځو ښځو ده. خبر کښې دا هم وئيلے شوي دي چې د دې شهزاده څلور نورې ښځې هم دي. خدائے دې نۀ کړي چې هغه بائيلې.

اوس پوښتنه دا ده چې اسلام کښې خو د څلورو ښځو نه د زياتو د ساتلو اجازت نشته دا نهه ښځې دې شهزاده د کوم قانون لاندې ساتلې وې؟